ليکوال : پوهنوال رسول باوري

# لرغونی افغانستان او د وريښمو تاريخي لار

## په دې هيله چي يوځل بيا زموږ هيواد په سيمه او نړۍ کي وځليږي

لاري او سړکونه د بشري ټولنو او هيوادونو تر منځ دپيوستون او اړيکو هغه وسيله ده چي نه يوازې د سوداګرۍ لپاره يي موثريت څرګند دی بلکي د لرغونو زمانو را هيسي يي د تمدونونو ، کلتورنو او بيلا بيلو تهذيبو نو د پيژندلو او وړلو راوړلو په چاروکي ټاکونکی او کټور رول لوبولی دی. په دې هيله چي افغانستان يو ځل بيا د نړۍ د پام وړ او په سيمه کي د پخوا په شان خپل ارزښتمن مقام تر لاسه کړي، دادی د وريښمو تاريخي لارې څرک اخلو او ګام په ګام يي رباطونه او تم ځايونه را ياده ؤ.

په لرغوني نړۍ کي د هيوادونو تر منځ د اړيکو جوړيدل او دهغو اړيکو پايښت په زياته پيمانه د سوداګرۍ او تجارتي لارو د پرانستلو او ودي ورکولوچارو تر اغيزو لاندي پاته شويدي، په ځانګړي توګه هغه وخت چي د سوداګرۍ لپاره بحري لارې نه کارول کيدې او يا هم د ځمکنيو لارو په انډول ډاډمني نه وې، هغه وخت د هيوادونو تر منځ وچو ځمکنيو لارو زيات ارزښت درلود. د همدې ارزښت او د همدې لارو د زياتي ګټي اخستني پر بنسټ و چي يوشمير لارو نړيوال نوم وګټي او هم يي د لارې پر سر پراته هيوادونه د شهرت لوړو پوړيو ته ورسول، چي د وريښمو لار يي يوه ستره بيلګه ده.

د وريښمولارې هغه وخت نړيوال ارزښت تر لاسه کړ چي مقدوني تاجر (( تيتونياس)) د لومړي ځل لپاره د ختيځ او لويديځ ترمنځ د دي لارې څخه په ګټه اخستلو بريالی شو، نوموړی سوداګر د شام ( اوسنی سوريه ) په حوزه کي د روم او چين تر منځ د سوداګريزو اړيکو د پراختيا په هيله په برايت، سيدون، تاير او انتيچ کي تجارتي مرکزونه پرانيستل او د همدې لاري څخه يي په ګټه اخستني سره وکړای شول چي د ختيځ او لويديځ تجارتي اړيکي جوړي کړي .( جغرافيايي تاريخي : ١٣٤)

د وريښمو د لارې وده او پراختيا هغه وخت د ختيځ او لوديځ تر منځ نامتو او ډاډمنه شول چي د دې لارې پر سر پراته هيوادونه او د هغه وخت امپراتوريو د دې لارې د امنيت او ساتني چاروته پام وکړ . دا لاره چي دهند او چين څخه پيل کيدل او بيا د لرغوني افغا نستان د مهمو ستراتيژيکو او سياسي مرکزونو څخه تيريدل او تر روم پوري رسيدله، د خپل وخت دري لويي امپراتورۍ په ختيځ کي د چيني هونانو امپراتوري په منځني اسياکي د کوشانيانو امپراتوري او په لويديځ کي د روم امپراتورۍ يي يو له بله سره پيوندکړي وې. د وريښمو تجارتي لار د وخت د امپراتورانو ترمنځ د ښو اړيکو زمينه هم برابره کړل چي د دې ډول اړيکو ښه بيلګه د روم ستر امپراتور(( تراجان : لومړۍ ميلادي پيړۍ ورستي کالونه .)) او افغان کوشاني امپراتور (( ويما کدفيسيس : دلومړۍ ميلادي پيړۍ ورستي کالونه)) ترمنځ د دوستانه ليکونو ليږل او راليږل وه. (افغانستان در مسير تاريخ : ٥٠ )

په ختيځ کي هندي ادويه جات او چيني وريښمين ټوکران د لويديځو هيوادونو لپاره د نورو تجارتي مالونو تر څنګ دزيات ارزښت او پاملرني وړ وه، د سوداګرۍ دا دوه ستر توکي په هند او چين کي جوړيدل او لويديځو هيوادونوته يي د ليږلو لار د منځنۍ اسيا او په ځانګړي توګه له لرغوني افغانستان څخه تيريدل. د وريښمو د لارې پر سر دپرتو هيوادونو تر ټولو ارزښتمن ټاټوبی لرغونی افغانستان و، له يوې خوا د افغانستان له سهيل لورې هندوستان څخه هندي ادويه جات او له بلي خوا د افغانستان له ختيځ لورې د چين وريښمين توليدات، چي ختيځ ته بايد رسيدلي وای له افغاني خاوري څخه تيريدل، د همدې ارزښت له مخې د کوشاني امپراتورۍ په دوران کي د پوره امن او د لارو دساتني چاروته ځانګړې پاملرنه، هغه څرګند لاميلونه دي چي هم د ختيځي امپراتورۍ واکمنانو او هم د لويديځي امپراتورۍ واکمنانو د کوشاني امپراتور پوره درناوی کاوه او له کوشاني امپراتورۍ سره يي دوستي ځان ته وياړ ګاڼه.

دلرغوني افغانستان او په ځانګړې توګه د کوشاني امپراتورۍ پرمهال کابل، کندهار اوبلخ هغه دري سترمرکزونه وه، چي له هغو څخه به د وريښمو د لارې کاروانونه په پوره ډاډاو امن تيريدل. يوه هغه لار وه چي د هند څخه پيل کيده او د کابل څخه تر تيريدو وروسته بلخ ته رسيدل. بله هغه لار چي له هند څخه پيل کيده او د کندهاره، تر تيريدو وروسته به د ريښمو د لارې پر سرد کوشاني امپراتورۍ ورستۍ تمځای خوارزم کي د وريښمو نړيوالي لارې سره يوځای کيدله. د بلخ څخه ختيځ لورته د وريښمو نړيواله لار تر پکن او حتی ختيځ چين او جاپان پوري رسيدله. دلارې په اوږدوکي نور تم ځايونه هم وه چي په تاريخي متونوکي د رباط په نوم ياد شويدي. په دې برخه کي دهغو رباطونو او يا تمځايونو يادونه کوم چي په تاريخي متونو کي ثبت او د تاريخي جغرافيه پوهانو له خوا پيژندل شوې او په ګوته شويدي:

١ ـ د کابل لار: د وريښمو نړيوالي لارې يوه سهيلي لار د کابل لارې په نوم ياديږي، دا لار چي د هند له مرکزي سيمو او په ځانګړې توګه د (( پوتالي پوترا )) څخه پيل کيده د اوسني فيروز پور، لاهور، راولپنډی، ټاکسيلا، او

دلرغوني پوراشاپورا (( پيښور )) څخه تر تيريدو وروسته کابل ته رسيدل. کابل ته درسيدو بله لار هم په تاريخي متونو کي ياده شويده چي د تاکسيلا او پيښور څخه پيل شوې د چترال، کنړ او لغمان څخه تر تيريدو وروسته کابل ته رسيدل او له هغه ځايه بيا د وريښمو کوتل ، بغلان او بيا بلخ ته رسيدل او هلته به د نړيوالي لارې سره يوځاى کيدل ( راها وسيله ...؛ ٣٦).



٢ - د کندهار لار: د غه لار چي کندهار او هند يې سره وصل کوى لږ تر لږه ٤٠٠ ميله واټن يې درلود .چي د پوټالي پوترا څخه پيل کيدل او د فيروز پور تر تمځاى وروسته د سکر، شکار پور، لور لايي او کوټي تمځايونو تر تيريدو وروسته کندهار ته رسيدل او له هغه ځايه بيا د لارام او فراه تر پراخو دښتو تيريدل او لرغوني هرات ته په رسيدوسره به د وريښمو نړيوالي لارې سره يوځاى کيدل. د همدې ارزښت له مخي د هندي مغولي دربار مورخ ابوالفضل علامي په خپل تاريخ کي ليکلي چي: (( خرد پژوهان باستان کابل وکندهار را دو دروازه هندوستان برشمردند، که ازيکی بر توران وديگری بر ايران، جهانگردان را اين دو راه سزاوار )). ( افغانستان باستان: ۴۶)

٣ - د بلخ لار: دوريښمو د نړيوالي لارې يو ستر مرکز بلخ و. د بلخ څخه ختيځ لورته غزيدلي لار تر پکن پورې رسيدل، او په لار کي پراته رباطونه هم په تاريخي متونو کي ثبت شويدي. د وريښمو لويه لار د بلخ څخه د ختيځ په لور لومړى رباط فيض اباد او تر هغه وروسته چيني تاشقرغان، يارکند، ختن، روشان، ترواز، سيرانتروس او بيا پکن ته رسيدل. د دې تر څنګ يوه بله لار هم د امو سند شمال لورې ته د روشان له سيمي د شمال په لور بيله شوې اسمبريا، دامنا، اوشيا، کاشغر، خوقند، خجند، تاشکند، ګورګنج، هخشب، مرو، قصر احنف او بيا لرغوني هرات ته رسيدل. خو د بلخ څخه د لويديځ په لور د رباطونو زيات څرک نه دى څرګند شوى ، په دې لار کي يوازي د ميمني او مرورود او بيا د هرات نومونه ياد شويدي . (( لومړى نقشه ))



ښايي دا پوښتنه را پيداشي چې لرغوني افغانستان يوازې د وريښمو نړيوالي لارې پر سر د تجارتي اموالو کاروانونه بدرګه کول او که په دې هيواد کې هم داسي تجارتي متاع او محصولات وه چې د هغو په وړاندې کولو سره يې د دې نړيوالي لارې څخه ګټه تر لاسه کول ؟ دې پوښتني ته د جواب ويلو په نيت اړينه ده چې بيا هم تاريخي متونو ته پام وکړو. د دې لپاره چې د بحث داوړدوالي مخه ونيول شي دلته د بيلګو په توګه د ځينو تاريخي متونو يادونه کوم. مخکي له هر څه د دې ټکي يادول اړين ګڼم چې د ميلادي لومړيو پيړيو په درشل کې د د افغانستان پر اوسنۍ محدوده کوشاني ستره امپراتوري واکمنه وه چې له يوې خوا يې د نړيوالو لويو امپراتوريو سره ښې اړيکي درلودې او له بلې خوا يې په خپله واکمنۍ کې ډاډمن امنيت او مصونيت تامين کړی و چې دې چارو د وريښمو نړيوالي لارې د ودې او پراختيا لپاره پوره زمينه برابره کړې وه. د دې بنسټيز رکن سره يوځاي د افغانستان په بيلا بيلو سيمو کې لاسي محصولات ، کرهنيز توليدات ، ظريفه صنايع هم د وريښمو د لاري د ودي او پراختيا سره مرسته وکړه او باالمقابل د تجارتي نړيوالي لارې شتون هم په خپل وار په هيواد کې د دننه محصولاتو دزياتوني او هڅوني سبب وګرځيدل. چيني زيارت کونکی هيونتسنګ چې په ۶۲۹ ميلادي کال د بودايي معابدو ليدلوپه نيت افغانستان ته سفر کړی دی، نوموړی د بلخ د پيداوارو په اړه ليکي : (( د بهولو يا بلهيکا ( بلخ ) و ښارته کوچنی راجاګريها وايي ، دغه ښار سره ددې چې پوخ جوړ شويدی، وګړي يې ډير لږ دي، خو د ځمکي پيداوار يې زيات دي .يوازې د ګلانو د ډولونو شمير يې چې اوبيز او للمي کرل کيږي ډير ګران دی (( نوموړی د کاپيسا په اړه ليکي )) د کيا پي شي هيواد مرکز چاپيره محيط لس ليه ( يو لي د دريو ميلو سره سمون خوري ) دی. په دې هيواد کې هر ډول غلې داني کرل کيږي. او دلته يوډول داسي خوش بويه بوټی شته چې د ( يوکين ) په نوم يې يادوي. او دې هيواد ته د ډيرو هيوادونو څخه تجارتي شيان را ځي او نوروهيوادونو ته تجارتي شيان ځي او د ننګر هار په اړه ليکي (( د ناکي لوهو ( ننګرهار ) سيمه د غلو دانو له پلوه ډيره شتمنه ده او په زياته اندازه ميوې او ګلان پکې شته او کرل کيږي.)) ( يونليکونه ؛ ۸۵ )

د لرغوني افغانستان څخه بهرنيو هيوادونو ته يوازې کرهنيز محصولات نه ليږل کيده بلکې لاسي صنايع، قيمتي کاڼي، او دوايي بوټي او داسې نور سوداګريز توکي هم په زياته پيمانه د سوداګرانو په وسيله ليږل کيدل، د بيلګې په توګه د لاجوردو کاڼي يادولای شو، په دې اړه جاپاني لرغونپوه ماوريز يوتوزي په خپله څيړنيزه مقاله کې ليکي (( په مصر کې لرغونپوهانو داسې کاڼي د بيلابيلو فرغوني قبرونو څخه تر لاسه کړل چې له افغانستان څخه درې زره کاله پخوا تر ميلاد د تجارتي متاع په توګه وړل شوي وه د دې کاڼو شمير د ۱۰۹ قبرونو څخه تر ۵۰۰ زيات لاجوردي کاڼي او غمي تر لاسه شويد . )) ( تجارت لاجورد ؛ ۷۵ )



علامه حبيبي د ابن اثير په حواله ليکي چې د لرغوني مصر د تجارتي توکو له جملې څخه يو اساسي قلم د هرات منسوجات او ، او بدل شوي او توليد شوي ټوکران وه. ( افغانستان بعد از ؛ ٤٥ ) د بلخ تاريخي جغرافيا ليکوال د نورو تجارتي شيانو تر څنګ د اسونو هغه تانګونه هم يادوي چې د بلخ په زندان کې د محبوسينو له خوا جوړيدل او بيا به د تجارتي متاع په توګه لويو بازارونو ته وړل کيده . او په دې ترتيب نور لاسي صنايع او کورني توليدات د نورو هيوادونو تاجرانو او سوداګرو لپاره د پام وړ توکي ګڼل کيده او دهغو د لاس ته راوړلو لپاره به يې د وريښمو نړيواله لاره په پرله پسې توګه کارول.
د افغاني لاجوردو بيلګې چې دلرغونو سوداګرو د پام وړ ګرځيدل ديادشيو مطالبو څخه يوې بلې پوښتني ته هم لاره پيداکيږي چې اياداسي شواهد او اسناد شته چې په لرغونو زمانو کې دا تجارت او سوداګری د بيلا بيلو هيوادونو تر منځ تر سره شويده ؟ دې پوښتني ته هم لنډ جواب هو دی. د دې لپاره چې د دې هو ويلو اسناد وړاندې شي اړينه ده چې په لنډه توګه دلرغونپوهانو له خوا دهغو څيړنو يادونه وکړو چې د همدې هو ويلو د ثبوت سره مرسته کولای شي . د جاپان د تاداجي په موزيم کې د اوښ يوه مجسمه شته داسي بريښي چې د بودايي مذهب پيروان يې د سفرلپاره کاروي، دا هغه مجسمه ګڼل شويده چې په پنځمه ميلادي پيړی کې جاپان ته رسيدلې ده. د دې مجسمې د جوړيدو

ټاټوبۍ افغانستان ګڼل شوې چې لومړی له افغانستان څخه چین اوبیا جاپان ته رسیدلي ده. د دې تر څنګ د ساز وهلو یوه وسیله چې دوتاره (دنبوره ) نومیږي هم د همدې مجسمې سره یوځای جاپان ته رسیدلې ده. ( بهارته انک ؛۱٤٥ ) او دلاجوردو کاڼي هم د ختیځ او هم د لویدیځ په لوري د تجارتي متاع په توګه وړل شویدي ، چې وړاندې مو دهغو یادونه وکړل.

د پایلې په توګه د یادونې ده چې افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت پر بنسټ د منځنۍ اسیا تر ټولو ارزښتمن ټاټوبۍ ګڼل شویدی . خو د دې موقعیت ارزښت هغه وخت لا زیات شوی چې د میشتو اولسونو په مرسته ، د ځواکمن او پیاوړی دولت تر واکمنۍ لاندې راغلی دی . د تاریخ پاڼې دا مطلب بیله شکه تائیده وي چې په افغانستان کې سیاسي ثبات اوپیاوړې اولسي واکمني د سیمې او نړۍ لپاره د سولې او ډاډمنې ودې همیشنۍ پیغام لرلی دی.

پایان

اخځونه د الفبا په تر تیب:

۱ - باوري، رسول. (( راهای تجارتي افغانستان در زمانه قدیم )) علوم اجتماعی . ( کابل : پوهنتون کابل ) ۱۳٦٤
۲ - بهارته انک. میکنوسوکایدهایدا . شرکت نشرات تانک . ( توکیو جاپان : بینجیو ) ۱۹٦۷
۳ - حبیبي، عبدالحی. افغانستان بعد از اسلام. جلد اول . ( کابل : مطبعه دولتي ) ۱۳٥۷
٤ - سدید ، عبدالرحمن. جغرافیایي تاریخي بلخ. ( کابل : پوهنتون کابل ) ۱۳٦۰
٥ - سي. یو. کي. د چینیانو یونلیکونه. ژباړونکی : عبدالکریم محب. (کابل : دولتي مطبعه ) ۱۳٥۷
٦- ضمیر ساپی. محمد حسن . تاریخ افغانستان باستان. ( کابل : پوهنتون کابل ) ۱۳٥٦
۷- غبار ، غلامحمد . افغانستان در مسیر تاریخ . ( کابل : مطبعه دولتي ) ۱۳٥۷
۸- ماوریز، یوتوزي. ((تجارت لاجورد در هزاره سوم ق . م .)) مترجم داود کاویان . باستانشناسی افغانستان (کابل : مطبعه دولتي ) ۱۳٥۸.
۹- همت، محمد موسی. راها وسیله ارتباط زمینها و نشر مدنیتها. ( نشرات وزارت فوائید عامه ۱۳٤۹ )